حاجي محمد نوزادي

۲۰۱۷/۰۲/۲۲

# سترې

يــو سترې سرګردان خيال مي له ځانـه ســره وړي

بــيـرې مي دوبــوي ، مــا له تــوپــانه ســره وړي

يو ديب خــزان مي وليد ، د ښامار له خولې را ووت

پــسرلی د باغ لــمن کي د بــاغــوانـه ســـره وړي

بد رنګ يــو فــتواګــر ما د تــکــفيره سره پرېږدي

محــراب راڅــخــه يــوځای د قــرآنــه ســـره وړي

تــکــری د تانــدو پــيغــلو په هوا کي ترې نه واخلي

بـــربــوکـــی سي ، يــوه مينه د جانـــانه ســره وړي

نوزادي به له «مطلع» نه تر «مقطع» څنګه رسيږي

هـــر تـــوری د غـــزل يي له ديـــوانـــه سره وړي

۲۵ / ۱۱ / ۲۰۱۶ دنمارک





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونـه: دليکنې د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ